خالق رشید ۲۰۲۵/۰۹/۱۷

# د پوهې او رڼا په خاطر

## د زندان د پنجرو پرلور

### «د جهل په تورتم کې به اوسيږمه ترکومه
### ما څوک دعلم وفن پوهې رڼا ته نه پرېږدي

ګل پاچا الفت

دهندوستان له پخواني لومړي وزيراتل بيهاري واجپايي څخه يوه ژورنالست پوښتنه وکړه چې:
- ته يوشاعر، يوملي تيپه سياستوال چې دا اوسني واکمن ګوند غړی، لومړی وزيرهم يې، کومه تګلاره چې ستا ګونديي ځاري ته هم فکرکوي چې لوی هندوستان بايد يوازې دهندوانوله پاره وي، له دغه حالت سره ته يوه خوله يې؟

واجپايي له دې امله چې د واکمن ګوند د تند مزاجې ډلي له ګوزارونويې ځان بچ کړې وي ډيرلنډ ځواب ورکړ:

- زه يوهندوستانی ،روک راست ملي پالی، ډيرښه سړی يم، خودريغه چې په ډيربد وخت اوډيربدځای کي را ښکيل شوی يم... له دغې يادوني څخه مې د افغانستان په اوسنيوحالاتوکي نن دهمداسي يوه سياستوال محترم ډاکترفاروق اعظم صاحب د بندي کيدوخبرو، چې زما اوډيروپه پوهه اوترقي مينوافغانانو له پاره ترکومه ځايه چې محترم ډاکترصاحب اعظم اودهغه شخصيت پيژنو دډيرې خواشيني وړخبرو. ډاکترصاحب اعظم دافغانستان دتيرې نيمې پيرۍ په سياست کې ښکيل افغان سياستوال و، زه دده دريځ ان د مجاهدينود کابل دغوبل له وخت ځارم چې کله يې هم له ملي اومترقي سرو کرښوپرهغه خوا ګام نه دی ايښی، په خپل دريځ باوري اوپه خپل وخت کي يې دبې عدالتي اوملي ضد تګلاروپه وړاندې خوله پټه نه ده نيولې، يومسلکي انجنيردی چې لوړې زده کړې لرې اودغه علمي اومسلکي وياړيي لکه ديوشميرنا انجنرويارانوپه شان تش په نامه نه دی په برخه شوی. له تيروځوکالوزه ډاکترصاحب وېناوي اورم اوان چې کله کله مې خپل نظرهم له ده شريک کړی دی. خوپردې پوهيدم چې دا دملت اوخلکوپه ګټه خبرې به يې يوځل بيا لکه چې اشرف غني به يومهال له ده پرته په ارګ لمونځ نه کاوه اوچې کله ونګوښيده او لکړه يې لګوله ده ورته ويلي ووچې ته له دغه افغاني پرتوګ سره عادت نه يې لرپام کوه چې پښه به کې بنديږي... چې بيا همدغه ربښتيانی خبره په يوه لوی واڼ باندې واوښته...

اوترټولومهمه لادا چې ده تل دښووني او روزني اوهغې بې عدالتي په وړاندې چې په دغه برخه کې ديرغلګرامريکايي ځواک اودهغود لاسپوځوله خوا عملاً په افغانستان کې په نا انډولی سره روانه وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترسخت انتقاد لاندې ونیوه چې ویدیوګانویې اوس هم زموږ په وړاندې یوبشپړملی اومترقي لاسوند کیدای شي. ما نن بیا دده له درده ډک لیک چې د ژورې خواشینی وړدی دمیدیا پرمخ ولوست چې په هغه کې خپل زوی اوکورنۍ ته لیکي: «زه په توقیف کې یم، زما موضوع د ښځود تعلیم، عصري علوم، اود امربالمعروف دقانون دکمزوریو په ګوته کول دي. داهغه څه دي چې زه تردغه سخت چلند ته تیاریم...»

دا له شکه پرته یواوچت انساني غږدی چې په اوسنیوحالاتواودډغوتګلاروپه وړاندې چې دتعلیم اوعلم په وړاندې رواني دي او هیڅ ډول ملي اودیني توجیه څوک نه شي ورته موندلای نړیوال ضمیرلړزوي اوپاروي، دا دهمدغه لوی انسان ډاکتر فاروق اعظم اوچت غږوچې دهغه د ا وچتیدوپه خاطرپه سپیڅلي ارادې سره دافغان ملت دنوي نسل د راتلونکي دخوندي ساتنې په خاطرپورته شو. چې باوردی نه یوازې به یې سرلوړي افغانان بدرګه کړي بلکی نړۍ ته به هم د تورتم او جهل په وړاندې دمبارزې اومقاومت اوچته بیلګه شي.

راځي چې په یوآوازه سره ووایوچې :

موږد ډاکترفاروق اعظم له غږ سره خپل ملاتړاعلامووااوله هرډول ښکیل اوبندڅخه دهغه زرترزره آزادي غواړو.

په درنښت

پروفیسور رشید – دنهرویوهنتون استاد»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ